# آریانا قاموس

(پښـتو - پښـتو)

١

آریانا قاموس (پښتو - پښتو)

١

# Aryana Dictionary

(Pashto - Pashto)

Vol - 1

ISBN 978-9936-661-80-6

2023

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# آریانا قاموس

## (پښتو - پښتو)

## (۱)

اهتمام: څېړنپوه محمد اصف احمدزی

## د کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** آریانا قاموس (پښتو - پښتو)

لومړی ټوک (آ – ت)

**ایډیټوران:** څېړنپوه نصرالله ناصر او څېړنپوه دکتور عبدالقیوم مشوانی

**اهتمام:** څېړنپوه محمد اصف احمدزی

**ډیزاین:** محمد مجتبی همایون

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ کال:** ۱۴۰۲هـ. ش/ ۱۴۴۵هـ. ق

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN: ٦- ٨٠- ٦٦١- ٩٩٣٦- ٩٧٨



**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

| سرلیک | مخګڼه |
| --- | --- |
| لویه بریا | أ |
| سریزه | ا |
| آ | ۱ |
| ا | ۱۳ |
| ب | ۱۹۳ |
| پ | ۴۴۱ |
| ت | ٦۵۹ |

# لويه بريا

د قاموس يا سيند په ګڼو تعريفونو کې يو تعريف دا هم دی چې د يوې ژبې د لغاتو يا وييونو زېرمه ده چې موږ ته د يو ويي پر ګڼو معناګانو سربېره د هغه جمع، جنسيت او کله ناکله ريښې په اړه هم معلومات راکوي او د پښتو ژبې په ځينو قاموسونو کې کله کله آن د وييونو د ګردان په اړه هم نغوتې شوې وي، چې دغه اصل بيا ډېر ځله د نورو ژبو په قاموسونو کې نه وي.

قاموسونه معمولاً يو ژبي، دوه ژبي او درې ژبي وي، خو د يو ژبي او دوه ژبې شمېر يې زيات دی او درې ژبي چې ډېره اړتيا نه وي نه ليکل کېږي، خو معنا يې دا نه ده چې نه شته.

يو ژبي قاموسونه بيا په ساده او تشريحي باندې وېشل کېږي چې نن سبا تر تشريحي د ساده قاموسونو شمېر زيات دی او ډېر ځله عامو لوستونکو لپاره هم دغه ډول قاموس د ډېرې ګټنې وړ وي، ځکه هغوی يوازې د يو ويي په معنا ځان پوهول غواړي، ريښه او نور جزيات يې يا ورته اړين نه وي او يا هم وخت ورسره نه وي، خو د ژبپوهانو او قاموس پوهانو په اند تر ساده قاموس تشريحي قاموس ډېر اړين دی، ځکه ډېر وييونه داسې وي چې هغه په بېلګو کې کارېدنګ ته اړتيا لري او د هماغې کارونې له مخې د هغه وضاحت کېدلای شي، خو که هغه نه وي نو معنا يې نيمګړې بويه، لکه په پښتو ژبه کې چې ځينې ويي درې معناوې هم لري، خو که وينګ او خجنوالی يې نه وي او يا يې بېلګې نه وي، نو د معناوو توپير به يې يو ناپښتون لپاره څه نا څه ستونزمن وي، لکه (لور) چې يوه معنا يې د مور بچۍ يا دختر ده، بله معنا يې خوا يا طرف ده او درېيمه معنا يې هم پېرزوينه يا لطف او مهرباني ده؛ نو که د داسې وييونو وينګ او د استعمال موارد نه وي، په ساده توګه پر ټولو مواردو پوهېدل به يې يو څه ستونزمن وي، نو ځکه ژبپوهان تر ساده قاموس تشريحي قاموس غوره او ښه بولي.

د ژبپوهانو په وينا پښتو ژبه چې تر سلو زيات قاموسونه لري، تشريحي قاموسونه

په کې د گوتو په شمار او بلکې په هېڅ حساب دي، ځکه کـه د پښـتو ژبـې د ویونکـو شمېر ته وکتل شي او بیا پرې د نورو ژبو د هغو څېړونکو او ژبپوهانو شمېر هم ور زیات شي چې پښتو ژبه زده کوي او څېړنې پرې کوي، نو جوتېږي چې زموږ شـته تشریحي قاموسونه په هېڅ صورت د دغو ټولو کسانو غوښتنې او اړتیاوې نـه شي پـوره کـولای او دا چې نوې زیاتونې، نویزونه او جوړونې هم ورسره یو ځای شي، نو د تشې دغـه گـراف نور هم پورته ځي، نو ځکه اړتیا ده چې د پښتو تشریحي قـاموس پـه برخـه کـې نـوی، زیات او د نوو اړتیاوو په پام کې نیولو سره کار وشي چې دغه کار د یو یا دوو کسانو لـه وسې پوره کار نه دی او نه هم په وگړنیزه یا فردي توگه ترسره کېدای شي.

د دغه کار لپاره بایـد علمـي او اکـاډمیکې ټـولنې اوږه ورکـړي او د ځانگـه والـې ډلې له خوا یې ترسره کاندي چې له ښه مرغه همدغې اړتیا او تشې ته په کتلـو سره د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیـاتو انسـتیتوت پـه کوربه توب د پښتو څېړنو د نړۍ وال مرکز د غړو او گڼو نـورو اسـتادانو پـه گـډون دغـه تشه څه نا څـه د «پښـتو – پښـتو تشـریحي قـاموس» تـر لیکلـو وروسـته اوس د (آریانـا قاموس) په کښلو سره تر ډېره ډکه کړه. په دغه یو ژبیز تشریحي قاموس کې تر ډېـره د وخت غوښتنې او اړتیاوې په پام کې نیول شوي. هڅه شوې چې د بې ځایه، تکـراري، لهجوي او سمتي وییونو مخه په کې ونیول شي او د پښتو ـ پښتو تشـریحي قاموس په څېر د یو ویي څو وریانتونه په کې را نه شي، بلکې هغه ښه یې خوندي کـړي چـې کـابو عامه او منل شوې وي.

په دغه قاموس کـې د ځینـو وییونـو د سـمې سـپړنې او تشـریح لپـاره د اړتیـا پـر اساس متلونه، اصطلاحات او بیتونه هم راغلي او دا ترې په ډاگه شوې چـې یـاد لغـت باید څنگه تلفظ شي او کومه معنا ترې واخیسـتل شي. البتـه دا وضـاحت ځکـه اړیـن دی چې په ځینو قاموسونو کې ویی په یوې بڼې دی او په بېلگه یـا بیـت کـې یـې بلـه بڼه راغلې او هغه هم په ضمني یا فرعي معنا، نه په اصلي او موخنې معنا چې دا چـار د قاموس لیکنې بله ستونزه ده.

په دغه قاموس کې تر ټولو مهمه خبره د وییونـو د تکـرار مخنیـوی او لـه لهجـوي

مسایلو څخه را وتل دي. په دې معنا زموږ په پخوانیو ډېرو قاموسونو کې یو ویی په څو بڼو او څو وینګونو سره راغلی دی، خو معنا یې هماغه یوه ده، مګر په قاموس کې یې هره بڼه له تشریحاتو او توضیحاتو سره راغلې چې هغه هم ډېر تفاوت نه لري او یا یو شی دي. د ساري په ډول: څټ، سټ، ورمېږ، ورمږ، ګردن، مغزی او داسې نور چې دا هر یو ځانته تشریح او په خپل ردیف کې راغلي چې دا ټول لهجوي توپیرونه دي او د ټولو یادول یې پرته له دې چې قاموس وپړسوي او په ځینو مواردو کې لوستونکی زړه توری کړي، بله معنا نه لري، البته دغه ډول کار ته علمي زیاتونه یا سپیناوی نه ویل کېږي او په هېڅ صورت تکرار احسن هم نه ګڼل کېږي، نو ځکه وایم چې دغه قاموس له دې اړخه هم پړسېدلی نه دی.

په ټوله کې دا قاموس دا او دې ته ورته خورا ډېرې ښېګڼې لري چې ما یې د ګوتو په شمار هغه یادې کړې، خو زه ډاډه یم چې کله دغه قاموس د لوستونکو او ځانګه والو د لاسونو ګرمښت ښکل کړي، نو هغه خوبی او مسایل به په کې ووینـي چې تر دې پخوا یې په نورو پښتو قاموسونو کې یا نه وي لیدلي او یا د ګوتو په شمار په کې درک کړې وي؛ نو ځکه د دغه قاموس ټوله کاري ډله د ستایلو او نمانځلو ده چې دومره لوی کار یې کړی او لا یې هم په نورو ټوکونو کار کوي او د بشپړاوي هڅه یې کوي.

نو زه د ژبو او ادبیاتو مرکز په استازۍ لومړی د درانه استاد څېړنپوه نصرالله ناصر څخه د زړه له تله مننه کوم چې د دغه قاموس درانه او ستونزمن کار ته یې اوږه ورکړه تر ټولو استادانو زیاته خواري او ستړې یې په کې وګاللې، بیا د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت له مشر څېړنپوه محمد آصف احمدزي او د دغه انستیتوت له ټولو ښاغلو او اغلو استادانو، د پښتو څېړنو د نړۍ وال مرکز له درنو استادانو او په ټوله کې له هغو ټولو ښاغلو او اغلو مننه چې د دغه قاموس په راټولولو، تدوین، ترتیب، ایډېټ، چاپ، اداري چارو او ډیزاین په برخه کې یې ستړې وګاللې او دغه قاموس یې ستاسې درنو لوستونکو تر لاسونو در ورساوه، له دوی ټولو د زړه له کومې غرونه غرونه مننه کوم، کور یې ودان او ژوند یې له خوښیو ډک. زه هم په خپل وار سره ویاړم چې د

دغې کاري ډلې يوه کوچنۍ برخه وم او لا يم.

په پای کې هيله من يم چې د دغه قاموس نور ټوکونه ډېر ژر د چاپ په ګاڼه سينګار شي او دا لړۍ بشپړه شي او ترڅنګ يې له درنو لوستونکو، مينه والو او څانګه والو هيله لرم، که چېرې د دغه قاموس په لوستلو کې ستونزې او نيمګړتياوې په مخه درځي، لطفاً يې يادښت او د پښتو انستيتوت له مسئولينو سره شريکې کړئ، چې په نورو ټوکونو او چاپونو کې ورته پاملرنه وشي.

**درنښت او پېرزوينه**

څېړنپوه دوکتور سيد نظيم سيدي

د ژبو او ادبياتو مرکز رئيس

# سریزه

د پښتو قاموس لیکنې په اړه چې کوم معلومات زموږ په واک کې دي، تر اوسه په پښتو ژبه کې یو ژبیز، دوه‌ژبیز، څو ژبیز، تشریحي، د اصطلاحاتو او محاورو قاموسونه، احصائیوي قاموسونه او ...لیکل شوي دي چې شمېر یې له سلو اوړي، خو تر نورو هغو یې د تشریحي او معیاري قاموسونو شمېر لږ دی. باید وویل شی چې دغه قاموسونه که بهرنیانو لیکلي یا کورنیو پوهانو، په خپل خپل ځای د یوې اړتیا پر بنسټ لیکل شوي او چاپ شوي دي او په خپل وخت کې یې تر یوه بریده د مینه‌والو غوښتنو ته ځواب ویلی دی.

د ترلاسه شوو معلوماتو پربنسټ، په ختیځپوهانو کې لومړنی سړی گیولډن شتیت الماني ( ۱۷۴۵-۱۸۸۱م.) دی چې پښتو قاموس لیکنې ته یې مخه کړې ده. نوموړي ختیځ پوهاند له پیر محمد کاکړ څخه د دیگوري او اوسیتي ویيونو تر څنګ ۲۱۵ پښتو ویيونه هم کښلي دي. دا کتاب لومړی ځل د ده تر مړینې لس کاله وروسته په ۱۸۹۱م. کال په پترزبورگ (لیننگراد) کې چاپ شوی دی.

د پښتو قاموس لیکنې په لړ کې دویم اثر د نواب محبت خان بړیځي (ریاض المحبت) زموږ مخې ته دربېږي چې په ۱۲۲۱هـ. ق/ ۱۸۰٦م کال کې کښل شوی چې له دې قاموس څخه ختیځپوهانو هم استفاده کړې ده. له بده‌مرغه دغه ارزښتمن پښتو- فارسي قاموس لا تر اوسه نه دی چاپ شوی او یوه فوتوکاپي نسخه یې د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې خوندي ده. که دا دواړه قاموسونه په پام کې ونیسو زموږ د معلوماتو له مخې د پښتو قاموس لیکنې مخینه هغه چې په خپله پښتنو لیکلي، شاوخوا ۲۱۷ کاله عمر لري او هغه چې بهرنیانو کښلي، د چاپ د کال پر بنسټ یې عمر نږدې ۱۳۲ کلونو ته رسېږي.

په هر حال، اوس هم دننه په هېواد کې او یا هم له هېواده بهر زموږ پوهان او څېړونکي په تېره بیا څانگوال پوهان یا د خپل شخصي ذوق له مخې یا په ځینو علمي او څېړنیزو مرکزونو کې لگیا دي قاموسونه لیکي.

پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس چې په اوسني وخت کې د پښتو ژبې یو مشهور قاموس دی، له ۱۳۵۸ل کال نه راپه دېخوا د افغانستان پر علومو اکاډمي سربېره د بېلا بېلو ادارو تر څنګ د شخصي کتاب‌پلورنځیو له خوا هم بیا بیا چاپ شوی دی. له دې قاموس څخه اوس هم تر بل هر قاموسه زیاته استفاده کېږي او یو نسبتاً ښه قاموس دی.

پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس په خپل وخت کې د هېواد د پیاوړو متخصصینو او ځانګوالو پوهانو له خوا کښل شوی دی. دغه قاموس د ګڼو ښېګڼو ترڅنګ ځینې نیمګړتیاوې هم لري چې په وخت ورته د پوهانو پام ور اوښتی دی، د ښېګڼو تر څنګ یې د هغه نیمګړتیاوې هم په ګوته کړې دي، د ساري په توګه سرمحقق دوست محمد دوست او نصرالله ناصر په زېري اونیزه او کابل مجله کې د هغه د ښېګڼو تر څنګ څه نیمګړتیاوې هم رابرسېره کړې دي، همدارنګه اسدالله غضنفر هم د دې قاموس ځینې برخې نقد کړې دي.

له یوې خوا همدغو نیمګړتیاوو ته په کتو او له بله پلوه په ژبه کې ورځ تر بلې د اړتیاوو زیاتېدل، د نوو وییونو رامنځته کېدل (نوي لغتونه جوړول، له بهرنیو ژبو پښتو ته د ویيونو راتلل) او نور لاملونه موږ اړ باسي لکه څنګه چې لازمه ده د وخت غوښتنو ته ځواب ووایو او داسې یو قاموس ولیکو چې له اوسني پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس څخه یو څه متفاوت او د ویيونو زېرمه یې هم زیاته او غني وي.

همدغو او دې ته ورته ملحوظاتو ته په کتو څو کاله دمخه د افغانستان د علومو اکاډمي مشرتابه پلاوي (علمي شورا) دا تشه درک کړه او پرېکړه یې وکړه چې د «آریانا قاموس» (پښتو - پښتو) په نامه د یوه نوي قاموس د لیکلو چارې دې د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټوټ او د پښتو څېړنو د بین‌المللي مرکز علمي غړو ته وسپارل شي چې د علمي شورا له پرېکړې سره سم ورته وسپارل شوې. د دغه کار مشري څېړنپوه نصرالله ناصر ته ور تر غاړې شوه او نورو استادانو او څېړونکو ورسره په بشپړاوي کې همکاري پیل کړه.

که څه هم دغه کار په لومړیو کې ډېر ورو روان و او څه غوره او ملموسه پایله یې هم نه لرله، خو د ۱۳۹۶ل کال په څلورمه ربع کې د قاموس د کاري ډلې په مشوره

او تأیید پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس د اصل په توګه ومنل شو او پرېکړه وشوه چې همدا قاموس به چاپ او ایډېټ کېږي او د اړتیا پر مهال به ځینې هغه ویيونه چې په پښتو- پښتو تشریحي قاموس کې نه دي ثبت شوي یا د اړتیا له مخې نوي جوړ شوي یا له نورو ژبو څخه پښتو ژبې ته راننوتلي دي، په دې قاموس کې درج او همدارنګه به له نورو قاموسونو څخه هم استفاده کېږي، دا کار یو څه ګړندی شو او د ۱۳۹۸ل کال تر پایه د لومړي ټوک د لیکلو او تدوین چارې تر ډېره بریده پای ته ورسېدې، خو د کرونا ناروغۍ د زیاتېدو او ځینو نورو لاملونو له امله یې د پاتې کار د بشپړولو، وروستي ایډېټ او سمون چارې وځنډېدې چې دا دی له ښه‌مرغه سږکال (۱۴۰۲ل) یې د څښتن تعالی په فضل د پاتې چارو د بشپړولو، ایډېټ او سمون چارې هم سرته ورسېدې، سریزه او د تلفظ لارښود یې وکښل شول او بالاخره چاپ ته چمتو شو.

**د کار دود**

څېړنپوه نصرالله ناصر لومړی د قاموس د لوستلو او ایډېټ کار پیل کړ، د لوستلو پر مهال به چې له تکراري او نورو سره ورته ویيونو سره مخامخ کېده چې په قاموس کې یې ثبت لازم نه وو، بېرون نویس او یادداشت کول او موضوع به یې له کاري ډلې سره شریکوله او بالاخره به یې په ګډه پرېکړه کوله چې دغه یا هغه ویی دې ثبت یا لرې کړای شي یا دې د «وګورئ» لفظ ورته ولیکل شي.

همدارنګه هغه نوي ویيونه چې د ژبې د ګرامري جوړښت او اړتیا له مخې جوړ شوي او یا له نورو ژبو راغلي دي، د اړوندې کاري ډلې له تأیید وروسته په قاموس کې درج شول، البته دا خبره په تأکید سره کوو چې د دې قاموس په لیکنه او تدوین کې شخصي ذوق او سیمه‌ییزه لهجه په پام کې نه دي نیول شوي، بلکې دا کار په ګډې همکارۍ ترسره شوی دی چې ان شاء الله که ژوند باقي و، ټول ټوکونه به یې (له آ – ی پورې) بشپړ او ټولنې ته وړاندې شي.

**د آریانا قاموس کاري ډله:**

- څېړنپوه نصرالله ناصر
- څېړنپوه دوکتور خلیل الله اورمړ
- څېړنوال حبیب الله رفیع

- اکاډمیسین څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي
- څېړنپوه مولاجان تڼیوال
- څېړنپوه محمد عارف غروال
- څېړنپوه نعمت الله اندړ
- څېړنپوه محمد نبي صلاحي
- څېړنپوه دوکتور عبدالقیوم مشوانی
- څېړنپوه عبدالشکور قیومي
- څېړنوال زکریا ملاتړ
- څېړنوال محمد حکیم تڼیوال
- څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي
- څېړنپوه محمد اصف احمدزی
- څېړنوال دوکتور رفیع الله نیازی
- څېړنوال وجیه الله شپون
- څېړنوال شهزاده توحیدمل
- څېړنوال دوکتور عبدالاحد منګل
- څېړنوال رحمت الله هوتک
- څېړنوال رحیم الله حریفال
- څېړندوی مطیع الله ساحل
- څېړندوی احسان الحق کبیر
- څېړندوی شریف الله دوست
- څېړندوی یاسر پاچا
- څېړندوی لطف الله صابر
- څېړندوی حضرت اغا همدرد
- څېړندوی عزیزالله مبارز
- څېړندوی محمد اسحاق مومند
- څېړندوی حمایت الله ښاد

- ښېړنوال صاحب گل مموزی
- ښېړنپوه ظاهره هنگامه
- ښېړنواله جمیله سروري
- ښېړنواله ملکه مشتري
- ښېړنواله راضیه اندړ
- ښېړنواله خاطره شینوارې
- ښېړندویه سمیله احمدزۍ
- ښېړنواله شکیلا میاخېل
- ښېړندویه بي بي فضیله احمدي
- ښېړندویه سونیا هوتک
- ښېړندویه مینا مسعوده نېکیار
- ښېړندویه عاقله سادات
- ښېړنیاره بي بي شفیقه نوري
- ښېړنیاره نازو کمال.

**ایډیټوران:**

- ښېړنپوه نصرالله ناصر
- ښېړنپوه دوکتور عبدالقیوم مشوانۍ.

مخکې تر دې چې د آریانا قاموس په اړه څه ووایو، لازمه ده چې د پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس په اړه لنډه یادونه وکړو.

د پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس د تدوین چارې د پښتو ټولنې (پښتو اکاډمي) له ټاکلو پلانونو سره سم د دغې ټولنې د لغاتو څانگې له خوا پیل شوې چې لومړی ټوک یې د افغانستان د علومو اکاډمي د تأسیس په دویم کال (۱۳۵۸ل) د چاپ په گاڼه وپسولل شو او په ترتیب سره یې دویم ټوک په ۱۳۶۰ش، دریم ټوک په ۱۳۶۱ل او څلورم ټوک یې په ۱۳۶۵ل کال کې یو په بل پسې له چاپه راووتل. پلان داسې و چې دغه قاموس به په پنځو ټوکونو کې خپرېږي او شاوخوا (۵۰۰۰۰) وییونه به ولري، خو له بدهمرغه پنځم ټوک یې چې د خطاطۍ چارې یې هم بشپړې شوې

وې، په هېواد کې د وروستیو پېښو د پېښېدو له امله وسوځېد او څلور یې چاپ شول چې د الفبې په حساب تر (ک) توري پورې رسېده. په اتیایمو کلونو کې چې یو ځل بیا د څه لیکلو او چاپ زمینه برابره شوه، د دغه قاموس وروستی ټوک هم له (ک – ی) د میدیوتیک مؤسسې په همکارۍ د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټوټ او د پښتو څېړنو د بین‌المللي مرکز د ځینو غړو په هڅه او هاند بشپړ او د چاپ چارې یې په ۱۳۸۳ل کال په څلورو ټوکونو کې د میدیوتیک مؤسسې له خوا سمبال شوې.

که څه هم له پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس نه دمخه هم مورږ ډېر چاپي قاموسونه درلودل، خو دا یو تشریحي او په خپل وخت کې نسبتاً بشپړ قاموس ګڼل کېدای شي. یاد قاموس لکه دمخه چې یادونه وشوه ګڼې ښېګڼې لري، خو تر څنګ یې ځینې نیمګړتیاوې هم لري چې دلته به یې په لنډیز سره د دواړو یادونه وکړو.

- د پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس یوه څرګنده ښېګڼه دا ده چې زموږ د پخوانیو قاموسونو پر خلاف چې د هغو په ځینو کې نه د کلمې سم تلفظ په پام کې نیول شوی او نه اعراب، خو په دې قاموس کې لومړی هره کلمه په پښتو او بیا په فونیمیک الفبې لیکل شوې، خج په کې رعایت شوی او تر ډېره بریده سم تلفظ هم ښودل شوی دی چې دا کار که له یوې خوا د وییونو په سم او کره تلفظ کې له لوستونکو او مینه‌والو سره مرسته کولای شي، له بله پلوه ویی یا وییونه د معنا له کړکېچ څخه ژغوري، دا ځکه چې لغوي فشار یا خج د ویي په توپیرولو او په آره معنا باندې یې د پوهېدو په برخه کې مرسته کوي.

- د کلمې د اصلي خج د ښودلو تر څنګ د اړتیا پر مهال د ځینو کلمو لپاره بېلا بېل لهجوي تلفظونه او مترادفات هم راوړل شوي دي چې په دې کار سره د وییونو د زېرمې پر زیاتوالي سربېره د لهجوي څېړنو لپاره هم یو څه زمینه برابره شوې ده.

- هغه عربي کلمې چې زموږ د ولس په خولو کې لوېدلي، مفغنې یا د پښتو ژبې د جوړښت تابع شوي او عمومیت یې موندلی دی، په دغه قاموس کې په هماغه ولسي بڼه ثبت شوي دي، د بېلګې په توګه: سوله، ارتینه....

- دغه راز د ځینو کلمو د توضیح او ښې څرګندتیا په منظور د پښتو له

کلاسیک ادبه شواهد هم راوړل شوي دي. د یادولو وړ ده چې د ویپونو د وضاحت په منظور د بیټونو ترڅنګ ځینې پښتو متلونه او پښتو لنډۍ هم راوړل شوې دي.

- د دې ټولو تر څنګ د ځینو هغو ویپونو ثبت چې لهجوي بڼه او لږه کارونه لري، دغه قاموس ته یو څه زیان رسولی دی، یعنې د معیاري کلمو پر ځای داسې کلمې کارول شوي چې یواځې په یوې ځانګړې لهجې پورې اړوندې دي او عمومیت نه لري.

- دغه دود د پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس په ټولو ټوکونو کې تر ډېره بریده مراعات شوی دی، خو له دې سره سره هغسې چې د دې د قاموس د لومړي چاپ په سریزه کې ویل شوي (ادعا شوې)، د تکرار مخنیوی یې نه دی شوی.

- د دغه قاموس په لیکلو او تدوین کې له پښتو، دري، انګلیسي- او روسي قاموسونو نه ګټه اخیستل شوې ده چې (۱۸) یې معرفي شوي او ویل شوي چې له (٦٠) نورو قاموسونو څخه هم استفاده شوې ده.

له دې سره سره چې پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس د لغتونو د زېرمې له مخې یو نسبتاً غني قاموس دی او هڅه شوې چې د قاموس لیکنې آرونه په کې تر ډېره په پام کې ونیول شي، خو بیا هم په کې ځینې نیمګړتیاوې تر سترګو کېږي چې دلته به یې پر پورتنیو څرګندونو سربېره په اړه ځینې لنډې یادونې وکړو او د دغسې نیمګړتیاوو بېلګې به هم وړاندې شي او که دا لړۍ پسې وغځوو خبره اوږدېږي، نو ځکه په همدغو لاندې یادونو او بېلګو بسنه کوو:

ځینې هغه ویپونه یا نومونه چې د بڼې یا لیکدود له مخې سره توپیر لري، خو معنا او مفهوم یې سره یو وي، په پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس کې ډېر لیدل کېږي، یعنې یو ویی چې د قاموس په یوه مخ یا یوه ټوک کې په یوه بڼه ثبت شوی دی، په بل مخ یا بل ټوک کې په بله بڼه راوړل شوی، اکثراً ټولو ته تشریح لیکل شوې چې دا کار د قاموس د پړسېدو لامل شوی هم دی، کېدای شول چې یوه معیاري یا نسبتاً معیاري بڼه یې انتخاب او تشریح شوې وای او نور یا د همدې ویي په شرحه کې لیکل شوي وای یا د وګورئ (وګ) په لفظ ورته حواله شوې وای چې دا دود لږ په پام

کې نیول شوی دی او تر ډېره بریده دا ډول کلمې بېلا بېلې تشریح شوې دي؛ یعنې د ځانګړې کلمې په توګه ثبت شوې دي. مخکې له دې چې د دغسې وییونو بېلګې وړاندې شي د استاد پوهاند رښتین نظر به وګورو. نوموړي استاد د مترادفو کلمو په اړه لیکلي دي: «مترادف هغه دي چې دوه درې لغات یوه ګډه معنا ولري (تندی، تنده، وچولی) درې واړه د پارسي د پیشاني په معنا استعمالېږي. سره له دې چې د مترادفو لغاتو زیاتوالی د یوې ژبې په پراختیا او ادبي قوت دلالت کوي، خو بیا هم د یوې ژبې د ودې او پرمختګ په وخت کې د یوې ژبې د مشترکو او مترادفو لغاتو استعمال ته زیاته اړتیا نه پېښېږي».

له دغه ډول وییونو څخه باید یوه معیاري بڼه انتخاب شوې وای، هغه هم د قاموس لیکنې له دود سره سم او نورې لکه دمخه چې ورته نغوته وشوه حواله او یا یې په تشریح کې راغلي وای، دلته به د دغسې وییونو ځینې بېلګې البته د «مشت نمونۀ خروار » په توګه وړاندې شي:

۱ - آبدان: دغه کلمه په دې قاموس کې په دوو بڼو او تلفظونو ثبت شوې ده:

آبدان (ābdā́n) نر. م. اودان د اوبو د ساتلو لپاره یو ډول فلزي لوښی. (لومړی ټوک، ۲ مخ).

اودان (awdā́n) (ج. اودانونه)، د اوبو د ساتلو فلزي لوښی دی چې معمولاً په استوانه‌يي شکل جوړېږي او څوښکوری (مښوکه) لري، له اوبو نه پرته د نورو مایعاتو د ساتلو لپاره هم کارېږي.(لومړی ټوک، ۱۱۸ مخ).

ځینې کلمې د تورو د بدلون له امله هم په دوو یا څو بڼو ثبت شوې دي، لکه:

زنکدن (zankadán) نر. وګ: زکندن. (دویم ټوک، ۱٦۸ مخ).

زکندن (zakanán) نر. م. زنکدن، ځنکدن، زلکدم، زلکدن، وروستۍ سلګۍ، د انسان د ژوند هغه وروستی حالت دی چې ساه یې له تنه ووځي او د ساه په وتو سره یې له ژوند څخه علاقه قطع او د مړه اطلاق ورباندې کېږي. (دویم ټوک، ۱۵۹۷ مخ).

ځنکندن (ĵankandán) نر. م. ځنکدن، د نزعې حالت، د ژوند اخري سلګۍ. (دویم ټوک، ۱۰۴۲ مخ).

ځکندن (ĵakandán) نر. م. ځنکدن، ځلکدم، ځلکدن، د ساه وتلو حالت، ګران ساعت، د مړه کېدو وخت.

ومو لیدل چې یو ویی په څلورو بڼو ثبت او لیکل شوی دی او تشریح هم ورته لیکل شوې ده، په داسې حال کې چې دا ټول د یوه ویي استازیتوب کوي.

زګ (zag) نر. م. (ج. زګونه) ځږ، ځګ، ځُخ، کپ، قف، کف، رش، ځګی، جګ، ځږی، د مستو او شړومبو (شلومبو) د شاربلو خاورین لوښی(متی). (دویم ټوک، ۱۵۱۷ مخ).

ځګ (ĵag) نر.م. ځک، قف، کف، سپین پوک (پاک) څیز دی چې کله کله د اوبو له پاسه لیدل کېږي یا په خاصو مواردو کې د انسان تر خولې راوځي

لکه ځګ چې د اوبو په سر لــــیده شي
که یې واخلې هېڅ در نه شــي په چنګال
(رحمان بابا)

په همدې توګه ځینې اوښتې یا مقلوبې کلمې هم در واخله چې هم آره کلمه په قاموس کې ثبت شوې او هم یې اوښتې بڼه ثبت او تشریح شوې ده، لکه:

بغرګ (bɣarg) ص. نر. م. ۱) جوړه، جوت، یو ځای، غبرګ، کوړ، کت. (لومړی ټوک، ۲٦۸ مخ).

په ځوانی د عشق غمونو حمــید زوړ کړ
بې مودې یې ږیره سپینه شوه، ملا غبرګه
(حمید مومند)

موږ وینو چې په پورته بیت کې هم د توضیح لپاره د «بغرګ» پر ځای «غبرګه» کلمه راغلې، معمولاً باید داسې بیت یا متل وکاروو چې په هغه کې مطلوبه کلمه په اصلي بڼه راغلې وي. همدارنګه د «بغرګ» کلمه چې باید «غبرګ» ته حواله شوې وای، ټول مشتقات او ترکیبونه یې هم راوړل شوي دي، لکه: بغرګوالی، بغرګول، بغرګونه، بغرګوونکی، بغرګېدل، بغرګېدنه، بغرګېده.

غبرګ (ɣbarg) نر. م. ۱) جوت، جفت، جوړه، کت، قت، غبرګلون، نور

مشتقات او ترکیبونه یې: غبرګوالی، غبرګول، غبرګون، غبرګوونکی، غبرګه، غبرګېدل، غبرګېدنه، غبرګېده. (دریېم ټوک، ۲۱۷۲ مخ).

پله پسې (pəlapəsé) ق. پرلپسې، پرله پسې، یو په بل پسې، یو بل پسې، په یو مخ، مسلسل. (لومړی ټوک، ۵۰۵ مخ).

پرله پسې (pərlapsé) ق. یو پر بل پسې، یو په بل پسې، په یو مخ، مسلسل، متواتر (پرله پسې چې معیاري بڼه ده، نور مشتقات او ترکیبونه یې نه دي راوړل شوي). (لومړی ټوک، ۴۴۸ مخ).

پېشلمی (pešlamáy) نر. م. پېسمی، سیمی، پېشمنی، پړشمی، پشمنی، سحري، چرګ بانګی، چربانګی، پارشمی، پورشمی. (لومړی ټوک، ۵۷۵ مخ).

پیسمی (pismáy) نر. م. پیشلمی، پېشلمی، چربانګی، پړشمی، سیمی، له سهار کېدو نه مخکې هغه وخت ته وایي چې روژه نیوونکی د روژې په میاشت کې راپاڅېږي او د روژې نیولو لپاره ډوډی په کې خوري...(لومړی ټوک، ۵۷۰ مخ).

چربانګی (čərbāngáy) نر. م. پېشنمی، پشلمی، پړشمی، پېشمنی. (دویم ټوک، ۹٦۰ مخ).

چرګ بانګی (čərgbāngáy) نر. م. پشلمی، پېشنمی، چربانګی، پرشمی، پړشمی. (دویم ټوک، ۹٦۲ مخ).

پرانتل (prānətə́l) مص. مت. ۱) خلاصول، پرانستل، بېرته کول؛ ۲) افتتاح کول... او نور مشتقات او ترکیبونه یې لکه: پرانتلی، پرانتنه، پرانتی او نور... (لومړی ټوک، ۴۳٦ مخ).

پرانستل (pranastə́l) مص. مت، پرانتل-

چې رقیب راته تړلی په زنځیر و
خپل حبیب راباندې پرانست هغه ور بیا

دلته راوړل شوی بیت هم له آرې کلمې سره سمون نه لري، دا بیت باید نه وای راوړل شوی، ځکه چې په دې بیت کې د پرانستل پر ځای پرانست کلمه راغلې ده.

د پرانستل نور اړوند مشتقات هم راوړل شوي، لکه: پرانسته، پرانستی، ورپسې

(پرانیتل) کلمه راغلې چې پرانتل ته حواله شوې ده.

پرانیځل، وګ: پرانیستل.

پرانیستل (pranistə́l) مص. مت. ۱) خلاصول، بېرته کول، پرانیتل، پرانستل، پرانتل؛ ۲) افتتاح کول. (لومړی ټوک، ۴۳۷).

د پرانیستل نور مشتقات، لکه: پرانیستلی، پرانیستنه، پرانیستونکی، پرانیسته، پرانیستی، پرانستونکی او ... (لومړی ټوک، ۴۳۷ مخ).

یوه بله مقلوبه کلمه هم را اخلو:

تم تری (tamtaray) ق. تری تم، ناڅاپه له سترګو ورکېدل، یو په یو ورکېده، ناڅاپه ورکېده، بېخي ورک. (لومړی ټوک، ۷۲۲ مخ).

تري تم (taritám) ق. لا درکه، بې پتې، ناڅاپه ورکېده، نابېره له سترګو نیهامېده، یو ناڅاپه له سترګو غیبېده، له سترګو الونیاکېده. (لومړی ټوک، ٦٧۴ مخ).

دا کلمه اصلاً (تری تم) ده، خو د (تري تم) په بڼه ثبت شوې ده.

په پښتو – پښتو تشریحي قاموس کې د دې ډول وییونو شمېر لږ نه دی، دلته د ځینو وییونو یواځې نومونه یادوو او له شرحې یې تېرېږو چې عیناً د پورتنیو کلمو په څېر کارول شوي دي:

- څپېړه، څاپېړه، چپراخه، چاپېړه، چپړاکه، چپړاخه، چپېړه.
- بزغلی، بوزغالی.
- بلاربه، برالبه. د دواړو کلمو ټول مشتقات او ترکیبونه راوړل شوي دي.
- رېشل، ورېشل او نور...
- ځینې وییونه په یوه مخ یا یو ټوک کې راغلي؛ خو حواله یې په بل مخ کې ورکړل شوې، خو هغه په ټاکلي مخ یا ټوک کې نه دي ثبت شوي، لکه: ابلون، وګ: اوبلن، په داسې حال کې چې اوبلن هلته نه شته او هېڅ نه دی ثبت شوی.

همدارنګه په ډېرو ځایونو کې د لغت د وضاحت او تشریح په خاطر یو بیت یا پښتو لنډۍ راوړل شوې چې اړوند لغت یا ویی په کې په هغې بڼه نه دی راغلی په کومه چې په قاموس کې ثبت دی؛ لکه:

انسټ (anasṭ) نر. م. (ج. انسټان) ۱) یو ډول شنډه ونه ده چې مېوه نه کوي-
د هغه مشقت تل وي اوبو وړی

چې مـــېوه د مـــراد غـواړي له انسټه
(لومړی ټوک، ۱۰۱ مخ)، (علي خان)

اوجاړ (ujā́ṛ) ص. نر. م. ج. ړنګ، ویران، شاړه شوړ، ویجاړ، خرابه، د آباد ضد-

ما وې کلی مېشت دی چې په کلي باندې راغلم
تش کـــنډر پراتـــه دي، خالي مېـنه ده اوجاړه
(لومړی ټوک، ۱۱۴ مخ)، (خوشحال خان خټک)

د (اوجاړ) ویي لپاره چې د خوشحال خان خټک کوم بیت د استناد او وضاحت لپاره راغلی، هلته د (اوجاړ) پر ځای (اوجاړه) بڼه ذکر ده.

اوس خپل بحث د آریانا قاموس په اړه غځوو:

د دې لپاره چې تېرې تېروتنې په آریانا قاموس کې تکرار نه شي او تر ډېره بریده د بې ځایه تکرار مخه ونیول شي، لومړی به په عامه توګه د وییونو په باب لنډ معلومات وړاندې شي، ورپسې به هغه شرایط ذکر کړو چې د یوه نسبتاً غوره قاموس له لیکلو سره مرسته کولای شي.

لکه څنګه چې څرګنده ده په قاموس کې ډول ډول وییونه زېرمه کېږي، د دې لپاره چې دغه وییونه وپېژنو او په قاموس کې په سمه توګه وکارول شي، دلته پرې ډېر لنډ بحث کوو.

لومړی به د لغت یا ویي یو لنډ تعریف راواخلو: لغت یا ویی د یوې ژبې ډېر کوچنی معنا لرونکی واحد دی چې په وینا کې د مفاهیمو د جوړولو لپاره خپلواک دریځ لري.

وییونه د جوړښت او معنا له مخې په لاندې ډولونو وېشل شوي دي:

**لومړی:** د جوړښت له مخې- د جوړښت له مخې وییونه په یو توکیز او دوه توکیز یا ساده او مرکب باندې وېشل کېږي:

**الف) ساده وییونه:** هغه وییونه دي چې په بېلابېلو مورفیمونو وېشل کېږي یا په

بله وینا ساده وییونه هغه دي چې له یوه جز څخه زیات توکي ونه لري، لکه کور، لرګی، کټ، لاس، ښار.

**ب) دوه‌توکیز یا مرکب وییونه:** هغه وییونه دي چې پر بېلا بېلو مورفیمونو باندې وېشل کېږي یا په بله وینا: مرکب هغه لغتونه دي چې پر یوه واحد سربېره نور مورفیمونه هم ولري، لکه: اوبلن، خوږمن، سرېتوب، هوښیارتیا.

**دوه توکیز یا ترکیبي وییونه:** دا وییونه په دوه ډوله منځ ته راځي چې یو ډول یې اشتقاق او بل ډول یې ترکیب دی.

**الف) مشتق وییونه:** هغه دي چې له بسیطې کلمې څخه د ځینو مختاړو (prefixes) او وروستاړو (suffixes) په مرسته جوړېږي، لکه:

**ـ د وروستاړو په مرسته:**

کور+نی= کورنی

زړه+ور= زړور

سور+ور=سورور

**ـ د مختاړو په مرسته:**

- ناکردې

- ناانډولی

- بې خوبي

**ب) مرکب یا ترکیبي وییونه:** دا وییونه هغه ډله ده چې د دوو یا زیاتو ساده یا یوه بسیط او یوه مرکب جز په یو ځای کېدو سره جوړ شوي وي یا جوړېږي. په بله ژبه، له دوو یا زیاتو ساده توکو څخه جوړ شوي وي، لکه: خبرلوځ، ژبښودنه، بریلیک، ملاتړ، سرتړونی، اورلړونی.

**دویم د معنا له مخې:** د معنا له مخې وییونه په لاندې ډولونو وېشل کېږي:

**۱- اصلي وییونه:** هغه وییونه دي چې د ژبې اصلي مال ګڼل کېږي، یعنې په همدغې ژبه کې پیدا شوي او یا د ځینو اړتیاوو له امله د همدغې ژبې له مورفیمونو څخه د ویي رغونې له قوانینو سره سم په اشتقاقي او ترکیبي ډول جوړېږي، د بېلګې

په توگه، پوهنه، روزنه، ختیځ، نندارتون او نور. د یادونې وړ ده چې د مترادفو، مشترکو او متضادو لغتونو ډلې هم په اصلي ویيونو کې ځای لري.

۲- **مستعار ویيونه:** هغه ویيونه دي چې له نورو ژبو څخه په بېلا بېلو پېرونو او وختونو کې په مستقیم یا نامستقیم ډول ژبې ته راننوتلي دي او په ژبه کې یې خاص دریځ غوره کړی دی. دغه ډول ویيونه په پښتو ژبه کې هم شته. باید دا په زغرده ووایو چې له دې ډول ویيونو څخه د نړۍ هېڅ ژبه هم په امان کې نه ده پاتې شوې.

هغه پور ویيونه چې پښتو ته له عربي، اروپایي او گاونډیو ژبو څخه په بېلابېلو وختونو کې راغلي دي، هڅه مو کړې چې په خپله اصلي بڼه او تلفظ یې ثبت کړو، د دې ترځنگ مو د هغو اړونده ژبه هم ښودلې ده چې دغه یا هغه کلمه د کومې ژبې ده، البته په دې مورد کې باید ووایو چې د امکان تر پولې یواځې بهرنۍ ژبې په پام کې نیول شوې دي.

۳- **هممعانیز (synonymos) یا مترادف ویيونه:** هغې ډلې ویيونو ته ویل کېږي چې دوه یا څو لغتونه ورته معناگانې ولري، یعنې هغه مختلف لغتونه چې معناگانې یې سره ورته وي. باید وویل شي چې دغه معناگانې په ډېرو ځایونو کې سره یو راز نه وي، خو څه نږدېوالی به سره لري، لکه: حزب، گوند؛ هېواد، وطن؛ باړخو، اننگي.

په مترادفو کلمو کې هغه څه چې ډېر اهمیت او زیات ارزښت لري، هغه د یوې معنا د بېلابېلو اړخونو او باریکیو څرگندونه ده، یعنې هغه ویيونه چې بېل غږونه لري او د یوې معنا مختلفې او بېلې بېلې باریکۍ په گوته کوي، مترادفات گڼل کېږي.

له هممعانیزو یا گډ معانیزو ویيونو څخه مطلب دا نه دی چې هغه دې آر او ایتمولوژیکي خپلوان او په یوه معنا راغلي وي، ځکه چې ژبه او ژبنې توکي پر توپیر بنا دي.

٤- **متشابه** (**مشترک**) **(similar) ویيونه:** هغو ویيونو ته ویل کېږي چې له یوې معنا څخه زیاتې معناگانې ولري یا په بله وینا، مختلف ژبني واحدونه یا مختلف لغتونه چې د غږ له مخې یو شان وي امونیمونه گڼل کېږي، یا مشترک هغه ویيونه

دي چې د بڼې او غږ له پلوه یو راز او معناوې یې سره بېلې وي، خو دا باید هېره نه کړو چې دغه وییونه له آره د ایتمولوژي له مخې سره همریښه نه وي، مگر وروسته د فونولوژیکي اوښتنو په پایله کې یو گډ شکل او بڼې ته اوښتي وي. که په ژبه کې داسې لغتونه وي چې د فونیمیکي جوړښت له مخې سره یو شان وي، د دغه ډول لغتونو یو له بله توپیرول او په معنا باندې یې د پوهېدو په برخه کې لغوي فشار مرسته کوي.

لور lor = طرف.

لور lūr = ښځینه اولاد، د نارینه ضد.

لور láwr = پېرزوینه، رواداري.

٥- **متضاد وییونه (Antonym):** هغه وییونه دي چې په خپلو منځو کې د معناگانو له مخې یا د کیفیت د ځینو نورو نخښو نښانو په لرلو سره تضاد ولري، لکه: لوی – وړوکی، نوی-زوړ، تور-سپین.

٦- **مفغن وییونه:** هغه وییونه دي چې ډېر پخوا پښتو ژبې ته راغلي، پښتو ژبې منلي او اوس د همدې ژبې د جوړښت تابع دي چې ځینې کلمې یې سوونه کلونه دمخه پښتو ته راغلي، اوس څوک داسې فکر هم نه کوي چې دا به گونډې د بلې ژبې کلمې وي، لکه: کمیس، ارتینه، سوله، لوبه. دا کلمې په ورځنۍ محاوره او خبرو اترو کې دود او څوک یې پردۍ نه گڼي، «ارتینه» کلمه اشرف خان هجري په خپل یوه شعر کې داسې راوړې ده:

ارتینه چې زېب لري پوهه یې نه وي

په ښایست یې غره مه شه سپینه غوا وي

دا ډول کلمې به په قاموس کې په همدې مفغنه یا پښتو شوې بڼه لیکل کېږي.

د وییونو په اړه په پورتنۍ لنډه یادونه بسنه کوو. راځو آر مطلب ته چې هغه د آریانا قاموس لیکنه، ترتیب، تنظیم او اوډنه ده.

د پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس د ایډېټور او د آریانا قاموس د کاري ډلې له خوا د قاموس د کار په بهیر کې په دغو لاندې مواردو هم هوکړه شوې وه چې په آریانا

قاموس کې به رعایت کېږي؛ یعنې د آریانا قاموس چارې به د همدغو مـوادو او د نـوې قاموس لیکنې د نورو منل شوو معیارونو په پام کې نیولو سره پر مخ ځي چې ځینو تـه یې په لاندې کربښو کې ورته نغوته شوې ده:

۱- اوښتې یا مقلوبې کلمې چې توري په کې وړاندې وروسته شوي وي، هغه به وشي چې اصلي بڼه یې په قاموس کې د اصلي کلمې په توګه ثبت شي او نـورې بڼـې یې په تشریح کې راشي. یا یې که ثبت اړین وي د وګ: (وګورئ) لفظ بـه ورتـه لیکـل کېږي، لکه: مازغه، ماغزه؛ ازغی، اغزی؛ پخسه، پسخه؛ نسخه، نخسه؛ غبرګ، بغرګ.

۲- کومې کلمې چې په درې ډوله (یعنې په درېوو بېلا بېلو تلفظونو) ویل یـا ادا کېږي، اصلي بڼه به یې په قاموس کې د آرې کلمې په توګه لیکل کېږي، لکه: ژرنـده، روږه، ژوند چې په بېلابېلو لهجو کې په یو او بل ډول ویل کېږي، لکـه: ژرنـده، جرنـده، زرنده؛ ژوند، جوند، زوند.

۳- هغه کلمې چې په پښـتو (ځ) لیکـل کېـږي، بایـد پـه قـاموس کـې تشـخیص شي، خو د فعلونو او فعلي حالتونو په برخه کې یې په (ځ) لیکـل تـر ډېـره بریـده غـوره دي، لکه: پرځېدل، خوځېدل.

٤- یواځې، په پښتو ځ (ځیم) لیکل کېږي.

۵- دویم به په همدې بڼه لیکل کېږي، نه د دوهم په بڼه.

٦- د افغانستان د ولایتونو، ولسوالیو او ځینو مشهورو تاریخي ځایونو نومونه به د امکان تر پولې راوړل کېږي او د قاموس لیکنې د آرونو په رڼا کې به معـرفي کېـږي، د قاموس لیکنې له معیارونو سره سمه شرحه به ورتـه لیکـل کېـږي، نـه دایـرة المعـارفي شرحه، خو له اشخاصو نه به په دې قاموس کې حتی الامکان صرف نظر کېږي.

۷- علمي رتبې، علمي القاب او پوځي القاب به هـم چـې پـه پښـتو دي، پـه دې قاموس کې راځي.

۸- د نـړۍ د سـترو وچـو، هېوادونـو، مشـهورو سـیندونو او امـاکنو او نړیوالـو سازمانونو نومونه به هم د امکان تر بریده په پام کې نیول کېږي، البته د کاري ډلـې د پرېکړې او تأیید پر بنسټ.

۹- متلونه او اصطلاحات به په هغه صورت کې راوړل کېږي چې د یوې کلمې په توضیح کې مرسته وکړي، خو په عام ډول اصطلاحات په ټولو ژبو یا زیاتو ژبو کې جلا قاموسونه لري او متلونه بېلې ټولګې.

۱۰- د اړتیا پر مهال به د ځینو کلمو او ویپونو د لا وضاحت په منظور هڅه وشي چې د شاعرانو شعرونه د سند او صراحت په منظور راوړل شي.

۱۱- شاعرانه کلمو ته به توجه کېږي، ځکه چې شاعران کله کله د قافیې د برابرولو په خاطر په اصطلاح د کلمو هډوکي ماتوي، یعنې څه نا څه بدلون په کې راولي.

۱۲- بوټي: هغه بوټي چې پېژنو یې یا یې د قاموسونو په مرسته شرحه بشپړېدای شي، راوړل کېږي او که داسې وي چې یوائې د یوه بوټي نوم دی، د داسې مجهولو بوټو او نورو ورته مجهولو ویپونو له راوړلو څخه به تر ډېره بریده ډډه کېږي.

۱۳- که چېرې د یوې کلمې څو بڼې په بېلابېلو تورو یا ردیفونو کې راغلې وي او یا یوه کلمه په څو بڼو راغلې وي، نو تر ډېره به د هغې مروجه، مشهوره او مأنوسه بڼه د کمیسیون یا کاري ډلې له خوا منل کېږي او د اړتیا پر مهال به یې دویم وریانټ یا بڼه یوائې ثبتېږي او له تشریح څخه به یې ډډه کېږي، لکه:

- ځاپېړه، څپړه، چپلاخه، چپړاخه، چاپېړه او ...
- چترکی، چتکی، چتی، چندروکی، چروندک.
- څټک، چټک، چکش او نور...

۱٤- ډیکشنري یا قاموس د یوې ژبې د ټولو کلمو زېرمتون دی، نو مناسبه ده چې په دغه قاموس کې تر ډېره بریده دغه موضوع په پام کې ونیول شي، ځکه چې دا یو عام قاموس دی، نه اختصاصي.

۱۵- شخصي ذوق او ذوقي لېوالتیا به د لغاتو په انتخاب کې په نظر کې نه نیول کېږي.

د قاموس لیکنې شرایط زیات دي، خو دلته د څو اړینو نورو ټکو یادونه هم کوو:

۱- د لغت یا کلمې سم تلفظ باید په پام کې ونیول شي، دغه کار پخوا د اعراب په مرسته کېده، خو اوس تر ډېره بریده د فونیمیکي الفبې په مرسته کېږي، د مثال په توګه:

لاندې عربي کلمې چې په پښتو او دري ژبو کې مروجې دي، که سمې تلفظ نه شي، معنا یې بدلېږي، لکه: عرفان چې اصلاً د ع په زېر یا کسره باید ولیکل شي، ډېر پوه پوه کسان یې د ع په پېښ یعنې د عُرفان په بڼه وایي چې عُرف ترې جوړېږي، نجات، سواد، مصاحبه، فُرصت، فِرصت؛ مترجِم، مترَجم.

۲- خج یا فشار هم د کلمو د معنا په بدلون او سمون کې اغېزمن دی، لکه:

بوره، زوی مړې (bű́ra).

بوره – وچه ځمکه (borá).

بوره – شکر (būrá).

۳- د لغت اصلیت باید وښودل شي، لکه کتاب [ع]، یعنې عربي.

٤- لغوي معنا.

٥- اصطلاحي معنا.

٦- تشریحي معنا، ځینې نورې خبرې چې مخکې وویل شوې، لکه معادلې کلمې یې باید په پام کې ونیول شي.

۷- تعریف، لکه مالګه (Nacl)، دلته له تعریف نه مراد پېژندل دي.

۸- د کلمو سم تشخیص.

۹- که چېرې بیتونه راوړل کېږي، د کلمې هغه بڼه باید په کې ذکر وي چې په قاموس کې درج وي، نه بدله یا اوښتې بڼه.

۱۰- د ګرامري جوړښت څرنګوالی، اسم، صفت، قید، مفرد، جمع، فاعلي حالت، مفعولي حالت او ... ښودل.

۱۱- د کلمو مختلفې معناوې او مشهور معادلونه باید په پام کې ونیول شي.

۱۲- مترادفې کلمې باید یو ځل تعریف شي، دویم ځل تشریح ته حاجت نه شته، لکه دمخه چې وویل شول باید د (وګ:) لنډیز ورته وکارول شي، لکه: ګوند او

حزب.

۱۳- داسې مثالونه (بيتونه او متلونه) بايد راوړل شي چې د کلمې په تشريح کې مرسته وکړي او هغه له ابهامه خلاصه کړي.

۱٤- د کلمو سم تلفظ لکه: فيل د پيل په بڼه ونه ليکو، فرار – پرار، افعي- اپي او نور...

۱۵- د کلمو په تشريح کې بايد يو ټاکلی معيار په پام کې ونيول شي. بې مورده او بې ضرورته شرحه به په کې نه وي.

۱٦- د اعلامو لپاره بايد يو معيار وټاکل شي چې موږ دمخه ورته ټاکلی دی.

۱۷- د شرحې نثر بايد سم، معياري او کمزورتيا ونه لري.

۱۸- د لغاتو په شرحه کې به د قاموس ليکنې آرونه په پام کې نيول کېږي، نه دا چې د دايرةالمعارف په څېر د کلمو او وييونو تاريخچه په کې بيان شي.

۱۹- هڅه به وشي چې د ليکنې يو واحد سبک وکارول شي.

۲۰- وييکي يا ادات بايد لکه څنګه چې لازمه ده، تشريح شي.

۲۱- که يوه کلمه له تاريخي څرګندونو پرته سمه نه توضيح کېږي، استثناءً کېدای شي په وضاحت کې يې د مرستې په منظور دا کار وشي.

۲۲- ځينې پوهان داسې نظر لري چې که د يوې کلمې بېلابېل ترکيبونه راشي غوره به وي، لکه: لاس، لاس پورې کول، لاس اخيستل، کېدای شي د يوې کلمې تصريفونه راشي، خو کوم ترکيبونه چې اصطلاح تري جوړېږي، اصطلاحات له يوې خوا په بېلو قاموسونو کې ليکل کېږي، له بلې خوا په رديف بندۍ کې هم کېدای شي چې ستونزې رامنځ ته کړي، خو بيا هم په دې قاموس کې تر يوه بريده دا معمول هم مراعات شوی دی او په راتلونکو ټوکونو کې به هم له پامه ونه غورځول شي. په پای کې بايد ووايو چې د کلمو اصليت او ريښه تر کومه ځايه چې امکانات زموږ په واک کې وو، ښودل شوي چې دوام به هم لري، خو دا کار يواځې د بهرنيو ژبو د دخيلو وييونو په برخه کې شوی دی.

خو بايد وويل شي چې د دغه قاموس نوم په لومړيو کې «آريانا پښتو قاموس» و،

خو د ټاکل شوي کمېسیون له خوا د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت د ۱۴۰۲/۵/۱۸ل نېټې د (۱۰) ګڼه پروتوکول د پرېکړې پربنسټ یې نوم «آریانا قاموس (پښتو – پښتو)» غوره شو او د بیاکتنې او اهتمام چارې یې څېړنپوه محمد اصف احمدزي ته وسپارل شوې.

دلته لازمه بولو چې د دغه قاموس له کاري ډلې او اډېټورانو څخه مننه وکړو چې د دغه قاموس په بشپړولو او د ایډېټ په چارو کې یې د زړه له کومې هلې ځلې کړي او د قاموس په غونډو کې یې فعاله ونډه لرلې ده. همدارنګه د افغانستان د علومو اکاډمۍ له هغو ټولو پوهانو «د درې ګونو برخو له پوهانو» څخه مننه کوو چې موږ ته یې د ځینو ویپونو لستونه را استولي وو، موږ ترې د اړتیا پر مهال د قاموس له روحیې او تګلارې سره سم ځینې ویپونه انتخاب او په قاموس کې درج کړي دي.

په پای کې باید ووایو، که د دغه قاموس په دې ټوک کې کومه تېروتنه او ستونزه د چا تر سترګو کېږي، هیله ده د پښتو ژبې او ادبیاتو له انستیتیوت سره یې شریکه کړي چې د قاموس په نورو ټوکونو او هم د همدې ټوک د بیاځلي چاپ پر مهال ورته پام وشي. د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت هوډمن دی چې د قاموس لیکلو دغې لړۍ ته دوام ورکړي او د نورو پاتې ټوکونو د لیکلو چارې یې هم بشپړې کړي. په دې هیله چې د دغه قاموس ټول ټوکونه چاپ او لوستونکو ته په لاس ورشي.

موږ د دغه قاموس په چمتو کولو کې ډېره هڅه کړې چې یو نسبتاً معیاري قاموس ټولنې ته وړاندې کړو، وایي چې «بنده تر خپل وس پر دی»، موږ هېڅکله د یوه بشپړ معیاري قاموس دعوه نه کوو، یو بل متل دی «کم ما و کرم شما»، هیله من یو چې په راتلونکي کې به زموږ ځوان ځانګوال پوهان دا لار تعقیب کړي او د وخت له غوښتنو سره سم به د پښتو ژبې او ادب په اړه پر ژورو څېړنو سربېره د قاموس لیکنې برخه هم لا پسې پیاوړې کړي. دا تاسو او دا هم «آریانا قاموس».

په درنښت

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت